# يو سړي و چې ما بل څوک نه پېژانده چې له جومات څخه دې تر هغه لرې وي، خو هېڅ لمونځ يې نه پرېښوده

له أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضيَ اللهُ عنه څخه روايت دی، هغه ويلي چې: يو سړي و چې ما بل څوک نه پېژانده چې له جومات څخه دې تر هغه لرې وي، خو هېڅ لمونځ يې نه پرېښوده، وايي نو ورته وويل شول: يا دا چې ما ورته وويل: که ته يو خر واخلې چې د شپې په تیاره او د ورځې په تودوخه کې پرې سپرېږې، هغه وويل: زه نه غواړم چې کور مې د جومات خواته وي، زه غواړم چې تر جومات پورې مزل مې راته وليکل شي او دا چې بېرته کله «خپلې کورن ته ځم، نو رسول الله صلى الله عليه وويل:«الله تعالی درته دا ټول راټول کړي دی
[صحيح] [مسلم روايت کړی]

ابی بن کعب رضی الله عنه وايي چې له انصارو څخه د يو سړي کور د مسجد النبوي څخه تر ټولو لرې و، حال دا چې هيڅ لمونځ به ترې نه پاتې کېده؛ بلکې هر لمانځه کې به د پېغمبر صلی الله عليه وسلم سره حاضر و، نو ورته وويل شو: که ته يو خر واخلې چې د شپې په تیاره او د ورځې د ګرم پر مهال پرې سپرېږې؟ نو هغه وويل: زه نه غواړم چې زما کور دې د جومات څنګ ته وي، ځکه زه غواړم چې الله تعالی جومات ته د لمانځه لپاره زما تلل او بېرته راتلل (ثواب) وليکي، نو دا خبره يې پېغمبر صلى الله عليه وسلم ته ورسيده، هغه وويل: «الله تعالی دا ټول تاته «درکړي دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3561

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee